# تاثیر فقر بالای روان جوانان و نو جوانان

انسانها از آوان پیدایش تا اکنون با انواع مصیبت ها ،مشکلات و سختی ها سر دچار بوده اند و کوشیده اند تا با آنها مقابله نموده و راه های حل مناسب را برای نجات از آن ها دریابند یکی از این مصیبت ها که جوامع بشری را تهدید مینماید پدیده فقر میباشد که نه تنها تاثیرات بدی بالای سیاست اجتماع، فرهنگ و اقتصاد دارد بلکه بالای بعد های روحی و روانی انسانها به ویژه جوانان و نوجوانان تاثیرات فوق العاده دارد و این که فقر چه تاثیراتی بر روان جوانان و نو جوانان دارد ،در اینجا به بحث میگیریم.

طوریکه همه میدانیم فقر نه تنها تاثیرات بدی را بالای سیاست ، اجتماع ، فرهنگ و اقتصاد دارد بلکه بر روان انسانها به ویژه کودکان، جوانان و نوجوانان را نیز تهدید میکنند.

مثلاً :نبود سرپناه و پوشاک مناسب و عدم دسترسی به آموزش منجر به ظهور فشار ها و تنش های روحی و روانی در میان جوانان و نوجوانان میشود.

قابل یاد آوری است که چون فرزندان خانواده های فقیر به خوراکه کافی از نگاه کمی و کیفی دسترسی ندارند ازین سبب سلامت جسمی و روانی شان با خطرات جدی روبه رو میباشد.

کمبود یا نبود مواد خوراکی کافی و با کیفیت برای کودکان ،جوانان و نوجوانان ناشی از فقر و گرسنگی در دراز مدت رویه، خلق و خوی انسانها را دیگرگون کرده و نیرو و تلاش وی را زیاد میکند. به طور کلی فقر در جلوگیری از رشد عاطفی ،فکری ، سلامت روانی و رشد شخصیت نو جوانان و جوانان فوق العاده موثر است.

کودکان،نوجوانان و جوانان به دلیل مشکلات اقتصادی و نبود حمایت مالی از خانواده در سنین پایین تر به مشاغل نا مناسب در روی سرک ها و جاده ها روی می آوردند وی اظهار میدارد نوجوانان و جوانان که در روی سرک ها کار میکنند با تفاوت از نو جوانان و کودکان دیگر در جامعه دارای نیاز های بیشتر عاطفی و روانی میباشند که این نیاز ها در همان سنین کودکی سرکوب شده و باعث بوجود آوردن عقده های فراوان کینه ها و کمبودی های درونی در سنین جوانی آنها میشود چنانچه دیده شده آن شمار اطفال زیر سنین شش سال که والدین شان به افسردگی مبتلا بوده اند به استفاده نادرست از موارد و خشونت در خانواده مقابل بوده اند این اطفال به میزان زیادی به خطر بی خانگی ،گدایی، نبود مراقبت صحی و مراقبت غیر مصؤن روبه رو میباشد.

همچنان ایشان با بی اعتمادی در مقابل مراقبت های نا کافی و نا مطمئن خدمات صحی و اجتماعی نیز مواجه میباشند . این امر سبب میشود تا آنها نتوانند به حیث افراد سالم و با اعتبار جامعه تبارز نمایند و جایگاه اصلی شان را به عنوان اشخاص قابل احترام احراز نمایند برخلاف به بی حرمتی ها و اعمال نا شایسته و غیر قابل قبول دست و گریبان می باشند ، هر گاه پدیده فقر در افغانستان مورد توجه قرار گیرد دیده میشود که گراف فقر در کشور ما روز به روز بلند می رود و مشکلات زیاد روانی و اجتماعی را برای اطفال ،جوانان و نوجوانان فقیر به بار می آورد.

هر چند تلاش ها در جهت از میان برداشتن فقر در کشور ادامه دارد ولی چنین تلاش ها بسنده نمیباشد باید یاد آور شویم تلاش برای از بین بردن بعدی مادی فقر نسبت به ابعاد روانی ،اجتماعی و فرهنگی آن بیشتر است اگر افراد کشور در بهترین حالت و آنهم با حمایت دولت از فقر مادی نجات یابند ولی کار برای جبران پیامد های روحی و روانی فقر پیش بینی نشده است در حالیکه آسیب های روحی و روانی ناشی از فقر تاثیرات بسیار عمیق تر و مخرب تر نسبت به تاثیرات اقتصادی و مالی آن به جا میگذارد ، تا اکنون هیچ بخشی از نظام برای معالجه و برخورد با این مشکل کدام تدبیر و راه حلی ارایه نداده است.

ترتیب کننده: امین الله (صفا )

# ملي ځواکونه دهیوادساتونکي دي

افغان امنیتي ځواکونه دهیواد څخه پوره ملاتړي او تل هڅه کوي، چې خپله خاوره له یرغلګرو څخه په امن کې وساتي، دوی چاته اجازه نه ورکوي، چې دهیواد دبچیو د آزارولو لامل وګرزي، نو ولس ته پکار ده، چې دخپلو ملي امنیتي ځواکونو ملاتړ وکړي، ځکه دوی شپه او ورځ د ولس په خدمت کې دي او دګران هیواد افغانستان دخاورې ساتنه دخپل دسر په بیه کوي.

د ملي ځواکونو یواځنۍ موخه په هیواد کې ډاډمنه سوله تامینول، ورانکارو او ویره اچوونکو کسانو مخه نیول او پردیو یرغلګرو مخه ډب کول دي، نودوی ځومره دپاک هدف درلودونکي دي، خو ځیني کسان چې غلط پوه شوي او یا دخپل وطن لپاره درناوی نه لري، زمونږ له ملي ځواکونو سره جنګیږي، ځکه دوی ته دهیواد ساتونکي بهرني معلومیږي، نه هیڅکله دغه امنیتي ځواکونه زمونږ ددې خاورې بچیان دي، دکلي او کور خلک دي، مونږ او تاسو ساتي، نوبیا ولې دوی سره جنګ اودڅه لپاره جګړه؟ باید دغه ځواکونو مونږ نورهم پیاوړي کړو ، له هغوی سره اوږه پر اوږه ودریږو اودخپل خاورې ساتنه او پالنه وکړو. که مخکې دوی سره جنګیدلو اویا اوس ځیني جنګیږي، لږفکرو کړو ، چې ددغو ساتونکو ژوند ختمول دځان تباه کول دي، ځکه که زمونږ هیواد امنیتي ځواک ونه لري، نو خپل ځان او هیواد مو په چا وساتو ، بیا بهرني او ګاونډي هیوادونه به په مونږ خپل ملکي چلوي پرمونږ به حکومت کوي نو ربه چالره اجازه ورنه کړو ، چې زمونږ پرخاوره او ولس لوبې وکړي.

هرافغان خپل غیرت او میړانه په ښکاره ډول دهیواد دښمنانو ته وښايي، چې اوس هریو دخپلو پلرونو اونیکونو په څیر خپل سرونه دهیواد په ساتنه کې قرباني کوي او دهغوی لاره تعقیب کړی او کوي یې، ځینو لپاره ځومره ښه به وي چې دخپل ملي امنیتي ځواکونو سره ودریږي او پوره ورسره مرستندویه ووسي، نودغلیم مخ به تل تور شي او په افغانستان کې به نور د لاسوهنو څخه ډډه وکړي، ځکه بیا دوی مخ نه لري چې مونږ افغانان په خپلو کې سره بیل کړي ځکه زمونږ قوت په یوالي کې دی، ددې قوت په ډاګه کولو سره نن تول ژمنه وکړو ، چې دهیواد ساتونکو خدمت او له هغوی سره یوځای په سنګرونو کې ودریږو ، ترڅو زمونږ یوالی دښمن ته ښکاره شي، چې دافغانانو دماتولو ترسره کول امکان نلري او اوس دوی په خپله دښمنان له منځه وړي.

نو راځئ، چې هیواوالو ته خدمت وکړواودنورو خلکو خبرو ته غوږ کینږدو او دویجاړیو پرځای دجوړولو او سمسورولو فکر وکړو او دخپل هیواد امنیتي ساتونکو پوره ملاتړي وکړو.

ستانکزی

# په لوګر کې دسنځل ګل دودیزه ...

دخبرو کولو په لړکې دلوګر دولایتي شورا رییس سید قریب الله سادات، ډاکټرعبدالولي وکیل، ځوتنو مشرانو او فرهنګپالو هم خبرې وکړې دشاعرانو اولیکوالانو ستاینه او دوی یې نورهم و هڅول چې ترخپل وسې ولس لپاره لیکنې وکړي.

دهیواد تکړه او نوموتې لیکوال استاد سعدالدین شپون خپل خاطرات په ډیر ښکلې الفاظو د طنز په بڼه دمشاعرې ګډونوالو ته وړاندې کړل چې د ګډونوالو له تاوده هرکلي سره مخ شول.

دخبرو کولو لړ دپای ته په رسیدو دشعر او شاعري لړۍ جوخت پیل شوه. چې دلوګر شاعرانو اولیکوالانو؛ استاد احمدشاه رفیقي، عزیزاحمد نوري، مستري زلمی ستانکزی، محمد نذیر زاهد ، محمد ظاهرصدیقي اونورو په ګډون دپکتیا ، خوست، پکتیکا ، ننګرهار، میدان وردګو او نوروسیمو راغلو شاعرانو ، لکه مطیع الله تراب، دین محمد درویش، محمد داود تپان او نورو خپل شعرونه چې دلوګر او دسنځل دګلونو په اړه توصیف او همدارنګه دسولې، ملي یوالي، ملي پخلاینې، دامنیت ټینګښت او د وروري فضاء کې ژوند کولو پیغام یې درلود ، دسنځل ګل دمشاعرې ګډونوالو ته زمزمه او دمشاعرې ګډونوالو له خوا شاعران دلاسونو په پړکا نورهم هڅول کیدل.

باید وویل شي، چې یاده مشاعره دسهار په لسو بجو پیل او دماسپښین دلمانځه تروخته دوام وکړه، کله چې دلمانځه اود ډوډۍ خوړلو پروګرام پای وموند بیاهم مشاعره تر څلوربجو دوام او پای ته ورسیده.

هیره دنه وي، چې دسنځل ګل په دودیزه مشاعره کې دولایت مقام لخوا چاپ شوي کتابونه، د پوهنې، کرنې او ښځو چارو ریاستونو لخوا لاسي جوړونې (لاسي صنایع) هم دننداری لپاره ایښودل شوي ؤ.

# لس غوره ویناوې

۱. ستاسې هره وینا او هره هیله د حقیقت د جامو د اغوستو توان لري.

۲. ویره او ځنډ د بریالیتوب دوه ستر دښمنان دي.

۳. هر څیز ته ډیر د ستونزو په سترګو مه ګوره، کوښښ وکړه چې تل نیک فال ونیسې.

۴. خپلې نیمګړتیاوې ومنه او د اصلاح لپاره یې کوښښ وکړه.

۵. په خپل قوت پوه شه، خاکسار او متواضع اوسه، خو دومره هم نه چې خپل قوت کمزوری او یا له لاسه ورکړې.

۶. اړیکې پای او حد نلري، خو بدلون مومي.

۷. ستاسې د خوبونو د رښتیا کیدو په لار کې هیڅ خنډ نشته خو که په ځان باور ولری.

۸. په بده ورځ درسره هر څوک مرسته نشي کولای او په ښه ورځ درته هر څوک هومره خوښ نه وي. د ښو او رښتینو ملګرو پیدا کول زده کړه.

۹. تیر تیر شو په تیر پسې افسوس نه دی پکار او راځئ دا د کاشکې، افسوس، ای هی، چې داسې وای، چې داسې شوي وای کلمی هیرې کړو ، ځکه رسول الله فرمایي: (فان لو تفتح عمل الشیطان ) دا خبرې د شیطان دروازې پرانیزي.

۱۰. هره ورځ څه ګټورو شیان زده کړه، هغه چې د مینې، مهربانۍ، لوړ هدف، او پوهې په لار کې ستا مرسته وکړي.

سرچینه: اصلاح انلاین

# نیازگسترش فرهنگ کتابخوانی درمیان جوانان

باوریقین کامل باید داشت که یگانه دوست قرین وهم صحبت انسان بخصوص درهنگام فراغت و بیکاری کتاب است دوست وآشنایی که هرگز سبب رنجش خاطرانسان نمیگردد پاسخ تمام سوال های لاینحل ومشکل رابدون قهر وترش رویی که مانند افراد متواضع بادانش و برده بار است میدهد.

ازجانب دیگر باارایه تمام معلومات رازهای نهفته ودانستنی های امروزوگذشته طالب مزد وپاداش نمیباشد پس چی خوب است که روابط ودوستی خودراباچنین دوست وهم نشین مستحکمتربسازیم ودرگاه فراغت وفرصت سر صحبت راباآن بگشایم درحالیکه چنین دوست ودلدارکمترمیسرمیگردد.

این دوست گرامی که کتاب است درحقیقت گنج رانهفته درقلب خود دارد باسرا زیرشدن وسایل جدید ومودرن الکترونکی ازجمله تلویزیون ، رادیو امروزه کمپیوتر وهم ردیف آن فیسبوکها علاقمندانش راازدست میدهد اکنون کمترجوانان راباخود داریم.

متاسفانه که باسرازیرشدن فرهنگ بیگانه گان درکشور وراه یافتن وسایل الکترونیکی درمیان مردم خانوادها الماری هایکه برای کتاب وکتابخانه ها اختصاص داشت هرکس علاقه داشت تادرخانه خودالماری ازکتاب داشته باشدامروزجای خودراباوسایل الکترونیکی خالی کرده است..

بناً بخاطرزنده ساختن فرهنگ کتابخوانی و دست یافتن به این گنج نهفته باید دست بدست هم داده (معلمین ودست اندرکاران علم ودانش)شاگردان وجوانان کشور رابخواندن کتاب وآشنایی آنان به کتابخانه ها واستفاده ازگنج نهفته های فرهنگ کشورتشویق ورهنمایی نمایم تا به غنا بخشید ن وگسترش فرهنگ کتابخوانی وازگترش فرهنگ بیگانه گان ودورساختن جوانان ازتماشای فلم ها وسریالهای مبتذل وانحراف کننده جلوگیری شود وازجانب دیگرآشنایی حاصل کنند وبرغنامندی آن برای آیندگان این سرزمین دست بکارشوند.

خانواده ها مسٶلیت دارند تابرای اولاد و فرزندان شان درمورد موثریت کتاب ها وتاثرات کتابخوانی مطلب راگوشزد کنند وآنان رابه این فرهنگ اصیل وآموزنده آشناسازند.

دانشمندان واهل خبره آنان که به اهمیت کتاب وکتابخوانی آشنایی کامل دارند این رابه عنوان وجیبه ایمانی ووجدانی خود قرارداده باید درگسترش این فرهنگ دست بکارشوند.

رسانه های صوتی وتصویری، نشرات روزنامه ها هرکدام درعرصه های کاری خود ،درارتباط به گسترش فرهنگ کتابخوانی واستفاده ازکتاب به عنوان گنجینه های علم ودانش، برنامه های مشخص راتنظیم وبدست نشربسپارند تاازاین طریقه هاجوانان رابه این فرهنگ تشویق نمایند.

ترتیب کننده: محمد کاتب ((صدیقي ) ) مدیر کتابخانه ولسوالی محمدآغه

# دلمونځ نه کوونکو شل دنیوي عذابونه

۱. هغه کسان چې لمونځ قضا کوي ډیرژر به دجهنم کندې ته ورولویږي. القران

۲. دمرګ په وخت کې بې لمانځه شخص ترحده زیاته لوږه اوتنده پیداکوي. الحدیث

۳. دهیڅ نیک عمل په بدل کې بې لمانځه شخص ته ثواب نه رسیږي. الحدیث

۴. بې لمانځه شخص دخپل عمر له برکت څخه محروم کیږي. الحدیث

۵ - دبې لمانځه شخص قبربه له اورڅخه ډک وي. الحدیث

۶ - بې لمانځه شخص دذلت په مرګ مړ کیږي. الحدیث

۷ - دبې لمانځه شخص قبر به ډیرتنګ وي. الحدیث

۸ - دبې لمانځه شخص دعا دخدای په دربارکې نه قبلیږي. الحدیث

۹ - هرهغه څوک چې دسهارلمونځ قضا کړي دهغه څیره به بې نوره شي. الحدیث

۱۰ - هرهغه څوک چې دماسپښین لمونځ قضا کړی په روزي کې برکت نه وي. الحدیث

۱۱ - هرهغه څوک چې دمازدیګرلمونځ قضا کړي بدن به یې کمزوری شي. الحدیث

۱۲ - هرهغه څوک چې دماښام لمونځ قضا کړي داولاد د ګټې به محروم شي. الحدیث

۱۳ - هرهغه څوک چې دماخستن لمونځ قضا کړي دخوب له ګټې به محروم شی. الحدیث

۱۴ - هرهغه څوک چې دجمعې لمونځ قضا کړي زړه به یې تورشي. الحدیث

۱۵ - داسلام مشراورهبرباید د دهغه شخص دوژلو حکم صادرکړي چې لمونځ نه کوي. امام احمد حمبل

۱۶ - بې لمانځه شخص باید دمسلمانانو په هدیره کې خښ نه شي. عبدالقادر جیلاني

۱۷ - بې لمانځه شخص باید ترهغې زنداني شي چې توبه وباسي - امام اعظم (رح)

۱۸ - له بې لمانځه شخص څخه څوک نفرت اوهم کرکه کوي. سلطان باهو

۱۹ - بې لمانځه شخص واجب د قتل دی. امامی شافعي

۲۰ - دلمانځه قضا کول قصداً کفردی. امام احمد حنبل